مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هیواد
ورځپاڼه

چهارشنبه | ۱۴۴۸/۰۱/۱۵ هـ ق | ۱۴۰۵/۰۴/۱۰ هـ ش | 2026/07/1 م | خصوصي گڼه: ۷۴ مه | پرله پسې گڼه: ۱۰۴۵ مه | دوره: اتمه

ملګري ملتونه :

د افغانستان ملکي وګړي باید له هر ډول بریدونو خوندي وساتل شي

د پاکستان د پوځي رژیم له لوري د افغانستان پر ځینو سرحدي او ملکي سیمو د ترسره شویو بریدونو له امله د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې په اړه نړیوالې اندېښنې زیاتې شوې دي. د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال ویاند، سټیفن دوجاریک، په یوې خبري ناسته کې ویلي، چې د ملګرو ملتونو سرمنشي، انتونیو ګوتریش، د دغو بریدونو له امله د رامنځته شویو ملکي تلفاتو په اړه ژوره اندېښنه لري.

دوجاریک څرګنده کړې، چې ملګري ملتونه د ملکي وګړو د خوندیتوب اصل ته ځانګړې پاملرنه کوي او ټینګار کوي، چې په هر ډول پوځي عملیاتو او شخړو کې باید د نړیوالو بشري قوانینو درناوی وشي. نوموړي زیاته کړې، چې ملکي وګړي، استوګنیزې سیمې او عامه تاسیسات باید د هر ډول بریدونو او زیانونو څخه خوندي وساتل شي.

بلخوا، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) هم په خپلو ارزونو کې تائید کړې، چې د پاکستان له لوري په وروستیو ترسره شویو بریدونو کې یو شمېر ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي. یوناما د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د پېښو د هر اړخیزې څېړنې غوښتنه کړې ده.

د افغانستان ولس او چارواکي تل ټینګار کوي، چې د هېواد ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو امنیت باید درناوی شي. د شنونکو په باور، پر ملکي سیمو بریدونه نه یوازې د نړیوالو اصولو خلاف عمل دی، بلکې د سیمې د ثبات او د دوارو ګاونډیو هېوادونو د اړیکو لپاره هم زیانمن تمامېدای شي. له همدې امله نړیوالې اداري او بشري بنسټونه د ملکي وګړو د خوندیتوب او د ورته پېښو د تکرار د مخنیوي غوښتنه کوي.

د بهرنیو چارو وزیر:

قطر د افغانستان د نړیوال تعامل په برخه کې مهم او رغنده رول لري

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي په کابل کې د قطر دولت له سفیر ډاکټر مردف القاشوطي سره وکتل او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د سیاسي، ډیپلوماتیکو او دوه اړخیزو اړیکو د لا پیاوړتیا تر څنګ پر سیمه‌ییزو او نړیوالو موضوعاتو مفصلې خبرې وکړې.

د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په دې لیدنه کې د افغانستان او قطر ترمنځ د اړیکو د پراختیا، د سیاسي تعامل د پیاوړتیا، اقتصادي همکاریو او د ګډو ګټو اړوند پر مهمو سیمه‌ییزو مسایلو بحث او د نظر تبادله وشوه. دواړو لورو د متقابل درناوي او ګډو ګټو پر بنسټ د اړیکو د پراختیا پر اهمیت ټینګار وکړ.

مولوي امیرخان متقي د افغانستان او قطر اړیکې دوستانه، مثبتې او مخ پر ودې وبللې او ویې ویل، چې قطر په تېرو کلونو کې د افغانستان اړوند سیاسي او ډیپلوماتیکو هڅو کې مهم او رغنده رول لوبولی دی. نوموړي همدا راز د افغانستان اسلامي امارت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د تعامل، تفاهم او اړیکو د پراختیا په برخه کې د قطر د هڅو ستاینه وکړه ...

۳مخ

پکتیا کې د پاکستان پوځي رژیم د پرلپسې دویم برید ډېری قربانیان ژغورونکي کلیوال دي

د پکتیا ځمکنیو ولسوالۍ اړوند مندي خېلو سیمه کې د بسم الله په نامه د یوه ځایي هېوادوال کور نیمه شپه د پاکستاني پوځي رژیم د بمونو موخه ګرځېدلی او له امله یې د همدې کورنۍ د دوو غړیو په شمول، شاوخوا ۲۰ تنه هغه کسان هم شهیدان شوي چې د لومړني

برید له کېدو وروسته، د مرستې او ژغورنې لپاره ورغلي وو.

ځایي امنیتي مسئولین وايي، دلته د دې هوایي بریدونو له امله شاوخوا ۲۰ ځای پرځای په شهادت رسېدلي او تر ۱۰۰ ډېر نور ژوبل دي.

د پکتیا امنیت آمر عبدالحلیم حیدر وایي: « دا چې دوې ورځ وړاندې د پاکستان پوځي رژیم د پکتیا ځمکنیو ولسوالۍ د مندي خېلو په کلي کې پر یوه ملکي کور ظالمانه او وحشیانه بمبار کړی، ګڼ ملکي وګړي یې شهیدان او ژوبل کړي دي.»

د قرباني شوې کورنۍ غړی حاجي بادشاه خان وایي: « زموږ پر کور باندې بمبار کې زما یو ۱۴ کلن بچی شهید شوی، همدارنګه د کلي او قوم ۱۸ تنه شهیدان شوي، دا هغه کسان وو، چې زموږ مرستې او ژغورنې ته راغلي وو.» اخوا ځایي اوسېدونکي د پاکستان پوځي رژیم له لورې ...

۳مخ

رغنده تعامل؛ د افغانستان د بهرني سیاست مهم اصل

د هېوادونو ترمنځ د باور فضا هغه مهال پراخېږي چې اړیکې د متقابل احترام او د یو بل د حاکمیت د درناوي پر بنسټ ولاړې وي. د نننۍ نړۍ ډېری سیاسي او اقتصادي بریاوې د دوامدار تعامل، ډیپلوماسۍ او خبرو اترو پایله ده. افغانستان هم د همدې لیدلوري پر بنسټ هڅه کوي چې له سیمې او نړۍ سره خپلې اړیکې پراخې کړي او د ګډو همکاریو لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړي.

د وروستیو معلوماتو له مخې، په کابل کې د قطر سفیر مردف القاشوطي د اسلامي امارت د بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیرخان متقي سره کتلي دي. په دې لیدنه کې د افغانستان او قطر ترمنځ د دوه‌اړخیزو اړیکو د پراختیا، سیمه‌ییزو موضوعاتو او د نړیوال تعامل په اړه خبرې شوې دي. د بهرنیو چارو وزارت ویلي، ښاغلي متقي د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د اړیکو د پراختیا په برخه کې د قطر رول ستایلی، او د قطر سفیر هم د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د رغنده تعامل د ملاتړ ډاډ ورکړی دی.

د افغانستان اسلامي امارت له واکمنېدو راهیسې په څرګند ډول اعلان کړی چې له ټولو هېوادونو سره د اسلامي اصولو، متقابل احترام او ملي ګټو په چوکاټ کې رغنده اړیکې غواړي. د اسلامي امارت موخه دا ده چې افغانستان د سیاسي، اقتصادي او ډیپلوماتیک تعامل له لارې له نړۍ سره همکارۍ پراخې کړي او د شخړو پر ځای د تفاهم لاره پیاوړې شي.

له همدې دریځ سره، افغانستان دا تمه هم لري چې دوستان او هغه هېوادونه چې د تعامل او منځګړیتوب ملاتړ کوي، د هغو ستونزو په اړه هم خپل اغېزمن رول ولوبوي چې افغانان ورسره مخ دي. د پاکستان د پوځي رژیم وروستیو بمباریو او پر افغان خاوره بریدونو کې ملکي وګړي، ماشومان او ښځې قرباني شوي دي. دا ډول بریدونه د نړیوالو بشري اصولو خلاف دي او د سیمې د ثبات لپاره هم جدي ګواښ رامنځته کوي.

قطر، چې د منځګړیتوب په برخه کې تجربه او اعتبار لري، کولی شي د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د اړیکو د پراختیا تر څنګ د دې موضوع په اړه هم د رغنده رول ادا کولو هڅه وکړي. د ملکي وګړو خوندیتوب، د سرحدي تاوتریخوالي کمېدل او د اختلافاتو سوله‌ییز حل د ټولې سیمې په ګټه دی.

د افغانستان اسلامي امارت د متوازن سیاست پر دوام باور لري او د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی. په ورته وخت کې تمه لري چې نړیواله ټولنه د افغان ولس د مشروع اندېښنو، په ځانګړي ډول د ملکي وګړو د خوندیتوب او د پاکستان د بریدونو د مخنیوي موضوع، له پامه ونه غورځوي. همدا توازن کولی شي د متقابل باور، سیمه‌ییز ثبات او دوامدارو همکاریو لپاره پیاوړی بنسټ جوړ کړي.

اقتصادي معاونیت:

د هېواد په کچه د سړک جوړولو ۷۴ ستري پروژې رواني دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت وايي، چې دا مهال د ټولګټو وزارت له لوري د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د سړک جوړولو د ۷۴ مهمو پروژو چارې په چټکۍ سره رواني دي. د دغو پروژو له ډلې د کابل ـ غزني دویم لین، د سالنګونو لویه لار، د کنړ ـ نورستان سړک، د کندهار ـ سپین بولدک او د کندهار ـ هلمند سړکونه هغه

ستري پروژې دي، چې د هېواد د ټرانسپورټي زیربناوو د پیاوړتیا لپاره ځانګړې اهمیت لري.

د اقتصادي معاونیت د معلوماتو له مخې، د دشت ارچي ـ کندز، میمنې ـ فردوس، په بادغیس کې د حلقوي او د قوشتېپې ـ درزاب سړکونو پروژې هم په روانو چارو کې شاملې دي. دغه پروژې د هېواد د بېلابېلو سیمو ترمنځ د تګ راتګ د اسانتیا، د سوداګریزو لارو د پراختیا او د ټرانسپورټي شبکې د معیاري کېدو...

۳مخ

هند:

د افغانستان پر حاکمیت هر ډول تېری د منلو وړ نه دی

د هند د بهرنیو چارو وزارت پر افغانستان د پاکستان بریدونه په کلکه غندلي او دا یې د افغانستان پر ملي حاکمیت تېری او د سیمې د سولې او ثبات پر وړاندې مستقیم ګواښ بللی دی. د پاکستان پوځي رژیم د روانې اوونۍ د یکشنبې په شپه د پکتیکا، پکتیا ...

۳مخ

د افغانستان او چین ترمنځ د اقتصادي همکاریو هوکړه‌لیک لاسلیک شو

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي، د چین د یانګژو د اقتصادي او پرمختللې ټکنالوژۍ زون ته د رسمي سفر پر مهال د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا لپاره د ګډې همکارۍ هوکړه‌لیک لاسلیک شوی دی. د یادې خونې په وینا، دغه هوکړه‌لیک به د سوداګرۍ، پانګونې، صنعت، تولید، ټکنالوژۍ او نورو اقتصادي برخو کې د همکاریو د پیاوړتیا لپاره مناسب ...

۳مخ

د سرغړونو له امله کابل کې د معاملاتو لاربښوونې ۱۹ دفترونه تړل شوي

د عدلیې وزارت وايي چې د غبرګولي میاشتې په اوږدو کې یې په کابل کې د معاملاتو لاربښوونې له ۶۳ دفترونو نظارت ترسره کړی، چې له ډلې یې د ناقانونه فعالیت او سرغړونو له امله ۱۹ دفترونه تړل شوي دي.

د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې، د انسجام عمومي ریاست د معاملاتو لاربښوونې او د عریضه‌لیکونکو چارو ریاست، نظارتي پلاوي د معاملاتو لاربښوونې نورو متصدیانو ته توصیه کړې، چې خپلې کاري نیمګړتیاوې اصلاح کړي او له هر ډول ناقانونه فعالیتونو ډډه وکړي.

سرچینه کاږي، دغه‌راز یاد ریاست د همدې مودې په اوږدو کې ۱۳۷ غوښتونکو ته د معاملاتو لاربښوونې د فعالیت نوي جوازونه وېشلي او د فعالیت ۷۱ نور جوازونه یې تمدید کړي دي. سرچینه زیاتوي، همدارنګه د تېرې میاشتې په اوږدو کې د معاملاتو لاربښوونې ۲۰۸ متصدیانو ته د معاملاتو وساطت د اصولو او د معاملاتو د ترسره کولو د څرنګوالي په اړه روزنیزې برنامې جوړې شوې او اړینې زده‌کړې ورکړل شوې دي.

پنجشېر کې د لومړي ځل لپاره د ګرین ګارنېټ قیمتي ډبرو پلور ترسره شو

د پنجشېر ځایي مسئولین وايي، چې په دغه ولایت کې د لومړي ځل لپاره د ګرین ګارنېټ قیمتي ډبرو ۱۳ بېلګې د بولۍ له لارې وپلورل شوې. د پنجشېر د والي ویاند سیف‌الدین لټون وایي ، چې په دې داوطلبۍ کې ۳ زره ۲۹۷ قیراطه تازه استخراج شوي زمرد د ۱۹۸ زره ۳۷۰ امریکایي ډالرو په ارزښت پر کورنیو سوداګرو وپلورل شول. د نوموړي په وینا، د لومړي

ځل لپاره د ګرین ګارنېټ قیمتي ډبرو ۱۳ بېلګې هم د ۲۵۰ امریکایي ډالرو په ارزښت وپلورل شوې. د یاد ولایت د کانونو ...

۳مخ

پکتیکا کې د اوبولګولو دوو کانالونو د رغونې چارې پیل شوې

د پکتیکا په یوسف‌خېلو او زیړوک ولسوالیو کې د ۲۱ نیم میلیونه افغانیو په لګښت د اوبولګولو د دوو کانالونو د اساسي رغونې چارې پیل شوې دي. د اوبو او انرژۍ وزارت وایي، د یوسف‌خېلو ولسوالۍ د ملخ کانال ۵۸۴۳ متره او د زیړوک ولسوالۍ زیړوک کانال ۷۰۰ متره اوږدوالی لري، چې په اساسي ډول به ورغول شي.

ویل کېږي، د دغو پروژو له بشپړېدو وروسته به پراخې کرنیزې ځمکې په منظم ډول خړوبې شي، د اوبو د ضایع کېدو مخه به ونیول شي او د سیمې د کرنیزو حاصلاتو په ښه‌والي کې به مهم رول ولوبوي. د یادو کانالونو د رغونې چارې د «اېف‌اې‌او» په مالي ملاتړ او د ګوملې فرعي سینډیزې حوزې تر څارنې لاندې روانې دي.

د پاکستان بمبارونه بزدلانه عمل دی

ملا شبیراحمد عثماني

تاسې وګورئ! د نړۍ په تاریخ کې کفارو او مشرکینو ته د زیات شمېر پوځ، تسلیمېدل د پاکستان د پوځ دی چې شمېر يې ۹۳۰۰۰ تنه وو.

د نړۍ په تاریخ کې له هر چا د پاکستان پوځ ډېر ځله ماتې خوړلې.

د نړۍ په تاریخ کې بې باوره او دوکه باز هېواد پاکستان دی.

پاکستان په دې بمبارونو غواړي چې افغانستان مجبور کړي تر څو انتقاماً د فرضي کرښې ها غاړې ته پښتانه عوام یا پنجابیان ووژني. خو افغانستان واقعي اسلامي ملک او خلک يې واقعي مسلمانان دي او نظام يې مطلق اسلامي دی.

هیڅکله به داسې نامرده او د اسلام خلاف کار ونکړي.

افغانستان د جنګ شرعي اصول پېژني او په شرعي اصولو عمل کوي.

افغانستان په اوسني وخت کې په وطني تپونو ملهم ږدي،

تر څو دا وطن جوړ شي او جنګ ځپلي افغانان سوکاله او آباد شي.

خو دا بیا دا مانا نلري چې مونږ به انتقام پرېږدو.

د افغانانو انتقام هېڅکله نه پاتې کېږي.

مونږ پوهېږو چې پاکستان د افغانستان جوړېدل، پرمختک او خپلواکي نشئ زغملی.

پاکستان، افغانستان د پاکستاني اجناسو مارکېټ جوړول غواړي.

مونږ پوهېږو چې د افغانستان پوځي ورتیا او د اقتصادي نهادونو جوړېدلو د پاکستانیانو خوبونه حرام کړي دي.

مونږ پوهېږو چې د پاکستان پوځي رژیم ټول معیشت جنګي دی.

پاکستان تقریبا پنځوس کاله د افغانانو په وژنو او وینو خپله خېټه ساتلې ده.

نن هم دا ارمان لري چې د افغانانو وینې وزبېښي.

لرې به نه وي چې (پاکستان) د اسرائیلو او امریکایي استخباراتو نه د افغانستان د تباه کولو او د اسلامي نظام، ازادۍ او خپلواکۍ له منځه وړلو پروژه اخیستې ده.

که د ټي ټي پي شتون بهانه لري، نو د ټي ټي پي مرکزونه په پاکستان کې دي، هلته جنګ ور سره کوي او هلته شپه او ورځ اوسېږي، ولې يې نه ځپي؟

د حیرانتیا وړ خو دا ده چې پاکستان د کشف کوم وسایل دي چې نه يې لري؟ ولې په خپله خاوره ټي ټي پي نه شي کشف کولی؟

دوی بلوچ ازادي غوښتونکي د هندوستان فتنه ګڼي؛ خو د ازادۍ دغو جنګیالیو بلوڅانو ښارونه ترې نیولي، په لویو عمومي لارو د پاکستان کرایي پوځ تګ راتګ نشي کولی، بلوچستان ولایت د ازادۍ په درشل ولاړ دی. د پاکستان سالمیت ته مطلق خر مواجه دی – بیا ولې هندوستان نه بمباروي؟

پوهېږي! چې هند په ۱۹۷۱ م کې د پاکستان له ۹۳۰۰۰ زره پوځیانو وسلې واخیستې او بیا يې پتلونان ترې وباستل.

که دا وار بیا پاکستان برید وکړي، نو خدای خبر څه به ورسره وکړي.؟

افغانان هغه خلک دي چې په ۱۹۶۵ م او ۱۹۷۱ م کالونو کې کله چې پاکستان له هند سره جګړه وه او افغانانو له خپله اړخه بشپړ اطمنان ورکړ، د جنګ تر پایه پاکستان د افغانستان لخوا یوه ذره قدر متضرر نه شو.

خو پاکستان بیا هم په ډېره سپین سترګۍ د عامو افغانانو په کورونو بمونه غورځوي، بې ګناه ښځې ماشومان، بوډاګان او ځوانان له یوې مخې په شهادت رسوي.

د افغانستان په مقابل کې دا کار انګریزانو، شوروي اتحاد او د امریکا په مشرۍ ناټو هم وکړ؛ خو تاسې ولیدل چې کوم انجام ته ورسیدل.

فکر کوم چې دا ځل د پاکستان نمبر دی.

د یو مسلمان مجاهد لیکوال او ژورنالیست افغان په توګه دا ورته وایم چې د افغانانو صبر نور مه ازمایئ.!

افغانان که نن هوایي جنګي طیارې نه لري؛ خو د جنګ میدان ته په ډېره خوشحالۍ ورځي او جنګ يې د سیر او سیاحت په څیر مشغله ده. د دین او وطن لپاره قرباني ورکول خپل ویاړ ګڼي.

افغانانو نیمه پیړۍ مسلسل جنګونه کړې، درې نسلونه په جنګ کې پیدا او په جنګ کې رالوی شوي دي.

پاکستان باید خپل حیثیت و پیژني

د هند موزیمونه او آرشیفونه د پاکستاني پوځ په ماتیو ډک دي.

هغه توفنګچه او د جنرالۍ ماډلونه اوس هم د هند په موزیم کې خلک ګوري چې په ۱۹۷۱ م کال يې د پاکستاني جنرال نه په سر نه، بلکې په پښو وایستل.

وروستۍ خبره دا کوم چې افغانستان جنګ غوښتونکی نه دی؛ خو که جنګ پرې وتپل شي، بیا له جنګ نه تښتېدونکی نه دی او د جنګ میدان په ګټلو جګړې ختموي.

نو باید ووایم چې د پاکستان پوځي رژیم لخوا د افغانستان په عامو خلکو او ماشومانو بمبارونه کول یو بزدلانه عمل دی.

د پنجابي پوځ ظالمانه پرېکړه او د مقاومت نوې څپه

سلطان محمود سالمزی

د بلوچستان د خپلواکۍ مبارزینو لسګونه کاله وړاندې د انګریزي ښکیلاکګرو په خلاف خپله مبارزه پیل کړه او ډېرې قربانۍ يې ور کړې. خو کله چې انګریزان له برتانوي هند (بر صغیر) څخه وتلو ته اړ شول، افغان باتور، مؤمن او مېړني ملت يې په مقابل کې داسې خونړي جنګونه وکړل چې یوازې په درېیمه جګړه کې يې د کابل له بوت خاک څخه د جلال اباد تر تورخم پورې په یوه ورځ شپاړس زره انګریزي ځواکونه مردار او د جهنم کندې ته واستول. خو یو تن ډاکټر برایډن چې په بدن يې د زخمونو شمار نه وو، ژوندی په دې موخه پرېښود، چې انګریزانو ته د افغانانو د غیرت او مېړانې کیسې وکړي. د غازي ایوب خان په مشرۍ او د مېرمن ملالۍ په تاریخي لنډۍ ویلو سره د غازیانو مړه احساسات بیا را ژوندي شول او د مکار دښمن پر پوځونو ور پریوتل. د هېواد غازیانو په هر محاذ انګریزان له شرمونکي ماتې سره مخ کړل او کله چې د انګریزي ځواکونو د ماتې خبر د انګریزانو د هغه وخت صدراعظم، ګلاډ یستون ته ورسید، نو په جواب کې يې وویل له هغه قوم سره ټوک څه کولی شي چې هغوی جنت د ټوپک په میل کې ګوري.

غازي امان الله خان په ۱۹۱۹ میلادي کال په بشپړه توګه له انګریزي ښکیلاک ګرو څخه د خپلواکۍ اعلان وکړ؛ خو په سیمه کې يې د پاکستان په نوم یو نوی هېواد او جغرافیه چې څه حیصه له هند، افغانستان او ایران څخه جلا او رامنځ ته کړه، د پنجابي استعمار په لاس ورکړه چې په حقیقت کې د تروریزم ځاله او نورو هېوادونو ته د ټروریزم صادرونکي هېواد په توګه د خپلو شومو موخو لپاره رامنځ ته کړ. له هغه وخته د بلوچستان ازادي غوښتونکي له پنجابي استعمار سره لاس او ګریوان دي؛ خو پدې وروستیو کې پاکستاني پوځي واکمنو د بلوچانو او پښتنو د ځپلو لپاره پراخ پوځي عملیات په لار اچولي، چې په زرګونو بلوچانو او پښتنو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړ او په زرګونو نور يې زنداني او تر شکنجو لاندې نیولي، غواړي د زور او جبر له لارې هغوی وځپي، حقوق يې د خېټې لاندې کړي. د ماه رنګ بلوڅ په نوم یوې پیغلې ډاکټرې چې خپل پلار يې هم په دغه هدفي او مرموزو وژنو کې له لاسه ورکړی، په زرګونه بلوڅان لا تر اوسه نادرکه او د مړي او ژوندي معلومات يې نشته دي. د خپلو خلکو د دفاع او حقوقو مبارزه پیل کړه، چې څو ورځې وړاندې د پاکستاني نظامي رژیم له لوري ونیول شوه او په عمري بند محکومه شوه. زموږ په نظر د پاکستاني چارواکو دا عمل د ټولو بشري او نړیوالو قوانینو خلاف او همدارنګه اسلام سره هم په ټکر کې عمل دی چې ملګرو ملتونو، یو شمېر نړیوالو سازمانونو، قومي او مذهبي مشرانو او هېوادونو له خوا وغندل شو. پښتانه او بلوڅان مجبوروي چې د پاکستاني پوځي رژیم په مقابل کې د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره مبارزه لاپسې شدیده کړي، تر څو یو نوي انقلاب او بدلون ته لار پرانیزي او د بنګلدېش پېښه تکرار کړي. لکه چې شاعر وایي: د بلوڅ په ننګ مې پورته کړله چغه!

ننګیالۍ د زمانې ماه رنګ بلوڅ یم!
او یا دا چې که د زلمو نه پوره نه شوه!
بلوچستانه جنګۍ به دې ګټمه!

شاید د ماه رنګ بلوڅ پر ضد د پاکستاني چارواکو دغه غیر عادلانه پرېکړه د پښتنو او بلوڅو د یووالي او پیوستون لامل شي او یا بلوچستان د بشپړې خپلواکۍ باعث شي.

پنجابي صوبدارانو ته!

ستاسې درندې درندې څپېړې زموږ نازک مخونه؛ په یاد لرئ چې د انتقام وخت به راشي

حیات الله حلیم

نظامونه اوړي را اوړي، قدرتونه بدلېږي را بدلېږي، یوازیني نظامونه چې د ځمکې پرمخ به تل ثابت باقي پاتې کېږي، اسلامي نظامونه دي، ځکه چې د دې نظامونو د بقا ضمانت له الله ج سره دی، نو ځکه هغه ټوک چې د الله ج د دین حمایت او حفاظت او په الهي قوانینو استوار پرمخ روان دي، نو الله ج به خود ورسره ملګری وي.

اصل مطلب ته را ځو:

له لمرڅخه روښانه ده چې پنجابي صوبدارانو، نور د اسلامي امارت او افغان ملت په ضد د پرته پلمو په ترڅ کې د اسلامیت، انساني کرامت، نړیوالو ډیپلوماتیکو اصولو او میثاقونو له چوکات نه ځان ایستلي، زموږ د هېواد په مقابل کې يې هغه کړنلاره غوره کړې چې انساني ضمیر او وجدان يې تر پوښتنې لاندې را وستلی دی. نړیوال وجدان خو په ځای پرېږدو چې آن د پاکستان ملت ته هم د دغه جعلي جرنیلانو کړنلاره د منلو نه ده. لوی لوی شیوخ يې پرافغانانو د مظالمو د اعمال په اړه په خپلو بیانیو کې په دوی نیوکې کوي؛ خو دوی بیا هم لکه ضمیر او وجدان يې چې پوده شوی وي، خپلو بېرحمه حملو ته ادامه ورکوي، چې داسې خوله، ژبه او منطق نشته چې د دوی مغز ته حقیقتونه ورسوي. ملګري ملتونه یا په بل عبارت د بشرد حقوقو مدعیان (!) خو تل د ځینو ملحوظاتو پر بنا چوپه خوله پاتې وي. د حق غږ يې په ستوني کې وچ وي؛ خو دا ورته ثابته شوې هغه څه چې پاکستاني جرنیلان کوي، له نړیوالو بشري حقونو خلاف ده.

دا چاته ثابته شوه چې د کراچۍ د (رینجرز) پرمرکز د حمله کوونکو په ډله کې یو افغان هم موجود و چې په ټپي حالت کې ژوندی نیول شوی، که دا حقیقت ولري، پنجابیانو به اوس په سلګونو ځله د دوی پر اصطلاح دا ژوندي پاتې شوی ټپي له خپلو رسنیو نه یوازې خپل ملت ته، بلکې نړیوالو انظارو ته په افغانستان کې د ولایت، ولسوالۍ او کلي په آدرس ښکاره کړی و او داسې اقرار به يې ترې اخیستی و چې بلې، زه افغان یم! له دې ډلې سره مې په دې عملیاتو کې ګډون درلود. خو معلومېږي چې دا یوه بابېزه پلمه ده چې د بېګناه افغانانو د شهیدانولو او ځورولو لپاره نه یوازې اوس بلکې د پنجابي جرنیلانو په ذهن کې يې له پخوا ځای نیولی دی. له افغانانو سره دا ټول حسادتونه د دې له وجې را پیدا شوي چې دوی ولیدل په افغانستان کې ډاډمن امنیت او تل پاتې ثبات رامنځ ته شوی، د بیا رغونې کارونه پرمخ روان دي او یاد هېواد په هره برخه کې په ګړندیو ګامونو د پرمختګ په لور روان دی. برعکس د دوی په ملک کې د اختلافاتو له وجې د نا امنۍ موارد ورځ د بلې زور اخلي او دوی يې په مخنیوي کې پاتې راغلي دي، نوځکه خپل ملت د مخ روښې په خاطرد مصنوعي پلمو په ترڅ کې ګویا دا چې د دغه ملک د ناامنۍ موارد له افغانستان څخه دي، په هوایي حملو پیل کړی او په افغانستان کې بېګناه ماشومان، ښځې او بوډاګان شهیدانوي. په داسې حال کې چې اسلامي امارت ته په خپل ملک دومره کارونه مخ ته پراته دي چې ایله په هغه پسې ورسېږي او دې ته وخت نلري چې د چا په کورنیو چارو کې مداخله وکړي.

اصله خبره داده چې د ملکونو اداره باید د داسې اشخاصو په لاس کې وي چې سیاسي بلوغ ولري له عصبیت، تندو احساساتو، په روحي او رواني لحاظ ناروغي ونلري؛ خو د دوی د عملکردونو له مخې موږ وینو چې پنجابي واکداران له یوې مخې په پورته ناروغیو اخته دي، چې نه یوازې په افغانستان بې ځایه حملې کوي، بلکې خپل ملک يې په سیاسي، اقتصادي او نظامي لحاظ د داسې پاړ سر ته رسولي چې نن یا سبا د نړۍ له جغرافیا به حذف شي. نه یوازې دوی سیاسي بلوغ نلري بلکې د سیاسي قدرت باوجود يې له پیسو سره داسې جوړه ده چې هغه د چا خبره د پیسو په لیدو يې پېریان نیسي. دا هغه ښکاره حقیقت دی چې ټوله نړۍ د پورونو له وجې د پاکستان د اقتصاد د شړېدلو په مورد کې منلی دی، نه یوازې دوی دي چې د خپل هېواد د اقتصاد دښمنانان دي، بلکې ګاونډیو هېوادونو او د ماوراء النهر هېوادونو ته يې هم زیان اړولی دی. عجیبه ده، لارې بندې، تجارت بند، سیاسي روابط د سلیقوي عملکردونو قرباني، بیا هم د پاکستان ملت د دغه رواني ناروغانو په وړاندې ولې چوپه خوله دي؟.

نه یوازې پورته اقتصادي بدبختۍ بلکې د اسلامي امارت اوعلی الخصوص د افغان ملت پر وړاندې داسې کانکریټي دښمني خپله کړې چې د دې بېځایه د ښمنیو له وجې خپله پښه په تېشه وهي.

د خپلو خبرو په پای دې ټکي ته اشاره کوو چې که موږ اوس د دوی له لاسه هرڅومره درندې او ترخې څپېړې پرمخ خورو، په دې تکل به يې وزغمو چې د انتقام وخت راتلونکی دی؛ ځکه یقین لرو چې هره تیاره پای لري د یوه مشهورمتل له مخې (د هرې اوږدې شپې په پای کې سبا راتلونکی وي) بیا ګورو......

افغان اعلانات

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

اداره تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان اترا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (پروژه رنگ پرنتر مختلف النوع مورد ضرورت اداره اترا و دارای شماره داوطلبی ATRA-NCB-G3 -1405) اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را از آمریت قرار داد های ریاست تدارکات ذریعه فلش و یا از ویب سایت این اداره (www.atra.gov.af) بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بطور سر بسته به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۲۱ به روز یک شنبه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر به آمریت قرار داد های ریاست تدارکات واقع منزل ۱۳ تعمیر ۱۸ منزله وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی تسلیم نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.۳۰۹۵

اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم نذیر خان ځدران فرزند وزیر خان ځدران ولدیت ذالف خان دارنده تذکره نمبر (۳۸۱۹۶- ۱۰۰۲ - ۱۴۰۰) مالک امتیاز دواخانه ولی خان واقع ناحیه چهارم ولایت کابل عنوانی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۰۹

اطلاعیه کندز

ریاست فواید عامه ولایت کندز در نظر دارد تا پروژه خریداری روغنیات و مواد چرب کننده مورد نیاز وسایط و ماشینری این ریاست را به روش آزاد داوطلبی به اعلان بسپارد، نهاد های دولتی و خصوصی که خواهان اشتراک در این روند هستند می توانند سر از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم کاری به این ریاست مراجعه نموده، آفر و شرطنامه را در بدل ۱۰۰۰ افغانی پول غیر قابل برگشت اخذ نمایند.۳۰۲۱

اطلاعیه کندز

ریاست فواید عامه ولایت کندز در نظر دارد پروژه خریداری پرزه جات و ترمیمات وسایط ماشینری این ریاست را به روش داوطلبی آزاد به اعلان بسپارد. نهادی های دولتی و خصوصی که خواهان اشتراک در این روند هستند می توانند سر از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم کاری به این ریاست مراجعه نموده، آفر و شرطنامه را در بدل ۱۰۰۰ افغانی پول غیر قابل برگشت اخذ نمایند.۳۰۲۳

اطلاعیه کندز

ریاست معارف ولایت کندز در نظر دارد پروژه ترمیمات ۷ باب مکاتب حوز های تعلیمی خویش را از طریق ترمیم نماید، شرکت های امارتی و ساختمانی که خواهش عقد قرار داد را داشته باشند سر از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی در ریاست معارف ولایت کندز مراجعه نموده شرطنامه را ملاحظه نموده و آفر اخذ نمایند.۳۰۲۲

موضوع: نشر اعلان مساحت (۱۰) متر مربع زمین سفید جهت فعالیت فوتوکاپی و عکاسی واقع داخل محوطه ریاست تنظیم ترانسپورت عامه شهری ناحیه سوم شهر کابل جوار سیلوی مرکزی از طریق وسایل اطلاعات جمعی (رادیو و جریده)

« وزارت ترانسپورت و هوانوردی، مساحت (۱۰) مترمربع زمین سفید جهت فعالیت فوتوکاپی و عکاسی واقع داخل محوطه ریاست تنظیم ترانسپورت عامه شهری ناحیه سوم شهر کابل جوار سیلوی مرکزی را به اجاره میدهد. اشخاص که خواهش به اجاره گرفتن مساحت متذکره را از طریق پروسه مزایده داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۱۰) روز درخواست های خویش را به آمریت املاک ترانسپورت جاده ای، ریاست املاک و خدمات، وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصاری وات کابل سپرده و شرطنامه را اخذ نمایند.»

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه سند ملکیت زمین پروژه سید جمال الدین افغان ناحیه ۲۲ نمبر زمین ۴۶۹ به اسم محترم صفت الله فرزند لعل جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۱۳۲

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت مجوز حمل سلاح دارای شماره ۲۵۷۲ نوع کلاشنیکوف مربوط محترم غلام مصطفی فرزند غلام محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۱۰۳

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت هویت وکالت دفاع شماره ۱۰۸۰ مورخ ۱۴۴۷/۱/۱۳ مربوط محترم سید عبدالتواب حسینی فرزند سید عبدالبشیر که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۳۱۳۱

قطر د افغانستان د نړیوال ...

او دا يې د سيمه‌ييز ثبات او متقابل اعتماد د پياوړتيا لپاره مهم ګام وباله.

بلخوا، د قطر سفير ډاکټر مردف القاشوطي د دواړو هېوادونو اړيکې تاريخي، دوستانه او ژورې وبللې او څرګنده يې کړه، چې قطر د خپل متوازن او منځګړي بهرني سياست په چوکاټ کې د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د رغنده تعامل او مثبتو اړيکو د پراختيا ملاتړ ته ژمن دی. ده زياته کړه، چې هېواد يې د افغانستان د سيمه‌ييز ادغام، سياسي ثبات او نړيوال تعامل د پياوړتيا لپاره خپلو همکاريو ته دوام ورکوي.

د سياسي شنونکو په باور، د افغانستان او قطر ترمنځ دوامداري اړيکې نه يوازې د دواړو هېوادونو د سياسي او ډيپلوماټيکو همکاريو د پراختيا لپاره مهمې دي، بلکې د افغانستان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا، د سيمه‌ييزو همکاريو د پراختيا او د ګډو سياسي او اقتصادي فرصتونو د رامنځته کېدو لپاره هم ځانګړې اهميت لري. قطر په وروستيو کلونو کې د افغانستان په تړاو د مهمو ډيپلوماټيکو هڅو کوربه پاتې شوی او د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د افغانستان د تعامل د پراختيا په برخه کې يې فعال رول لوبولی دی.

پکتيا کې د پاکستان پوځي ...

د افغانستان په خاوره کې د عامو افغانانو په نښه کول يو جنګي جنايت بولي. دوی له نړيوالې ټولنې او نړيوالو بنسټونو غوارې چې د ملکيانو پر مرګ چوپ پاتې نه شي.

د پکتيا ځمکنيو ولسوالۍ مندي خېلو سيمه کې د پاکستان پوځی رژيم له لوري د همدې مرګوني هوايي بريد سره هم مهاله، د پکتيکا ګيان ولسوالۍ کې هم په يوه هوايي بريد کې شپږ عام وګړي شهيدان شوي دي.

د حکومت مرستيال وياند پر خپله اېکسپاڼه ليکلي، د پکتيا، پکتيکا او کنړ ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې د هوايي بريدونو له امله ټولټال ۳۶ ملکي وګړي چې ښځې او ماشومان هم په کې شامل دي، شهيدان شوي او ۱۶۳ نور ټپيان دي.

د هېواد په کچه د سړک ...

په موخه عملي کېږي.

ياد معاونيت زياتوي، چې د دغو پروژو له لارې په مستقيم او غير مستقيم ډول له ۱۳۲ زرو څخه زياتو کسانو ته د کار زمينه برابره شوې ده. همداراز دا مهال ۹ زره او ۴۹۳ عرادې درنې او سپکې ماشينرۍ د سړک جوړونې په بېلابېلو پروژو کې په فعاليت بوختې دي، چې د کارونو د چټکتيا او کيفيت په لوړولو کې مهم رول لري.

اقتصادي شنونکي باور لري، چې د سړکونو پراختيا يوازې د ټرانسپورټي اسانتياوو د زياتوالي معنا نه لري، بلکې د هېواد په اقتصادي وده، سوداګريزو فعاليتونو، پانګونې او سيمه‌ييز اتصال کې هم مهم اغېز لري. د معياري سړکونو جوړېدل د توليداتو د لېږد لګښتونه راکموي، د کورنيو بازارونو ترمنځ اړيکې پياوړې کوي او د کرنې، صنعت او سوداګرۍ سکټورونو ته د ودې نوي فرصتونه برابروي. سربېره پر دې، د لويو ټرانسپورټي دهلېزونو بشپړېدل کولی شي افغانستان د سيمې د سوداګرۍ او ټرانزېټ په مهم مرکز بدل کړي، چې په پايله کې به د عوايدو د زياتوالي، د خصوصي سکټور د پياوړتيا او د دوامدار اقتصادي پرمختګ لپاره لا مناسب شرايط رامنځته شي.

د افغانستان پر حاکميت ...

او کنړ ولايتونو پر ځينو سيمو هوايي بريدونه ترسره کړل.

د اسلامي امارت د وياند مرستيال، ملا حمدالله فطرت، په خپلې اېکس‌پاڼې کې ليکلي، چې د دغو بريدونو په پايله کې ۳۶ تنه، چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي، شهيدان شوي او ۱۶۳ نور ټپيان دي.

په همدې حال کې د هند د بهرنيو چارو وزارت په يوه اعلاميه کې ويلي، چې هند د پاکستان هغه هوايي بريدونه په کلکه غندي، چې د افغانستان په خاوره کې ترسره شوي او له امله يې يو شمېر ملکي وګړو، په ځانګړې توګه ښځو او ماشومانو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

ياد وزارت ټينګار کړی، چې هند يو ځل بيا د افغانستان د ملي حاکميت، خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيا په اړه خپل ثابت او نه بدلېدونکی ملاتړ څرګندوي او د هر هغه اقدام مخالفت کوي چې د افغانستان ثبات او امنيت ته زيان رسوي.

د افغانستان او چين ترمنځ ...

فرصتونه رامنځته کړي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مسئولينو په خبره، د دې هوکړه‌ليک له عملي کېدو سره به د افغانستان او چين د خصوصي سکټورونو ترمنځ مستقيمې اړيکې پراخې او د ګډو اقتصادي پروژو د پلي کېدو زمينه نوره هم برابره شي. اقتصادي شنونکي باور لري، چې چين د افغانستان له مهمو اقتصادي شريکانو څخه ګڼل کېږي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو او پانګونيزو همکاريو پراختيا کولای شي د افغانستان د توليدي ظرفيتونو د ودې، د صادراتو د زياتوالي او د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو په برخه کې مهم رول ولوبوي. د دوی په اند، د چين له پراخ بازار، پرمختللې ټکنالوژۍ او پانګونې ظرفيتونو څخه ګټه اخيستنه د افغانستان لپاره د صنعتي پراختيا او اقتصادي ودې نوې لارې پرانيزي. همدارنګه، تمه کېږي چې د دغه ډول هوکړه‌ليکونو له لارې به افغان توليدات او صادرات د چين بازارونو ته لا زيات لاسرسی ومومي، د کانونو، کرنې، انرژۍ او توليدي سکټورونو په برخو کې به د پانګونې فرصتونه پراخ شي او د دواړو هېوادونو ترمنځ به اقتصادي اړيکې لا ژورې او دوامدارې شي. د اقتصادي همکاريو پياوړتيا نه يوازې د سوداګرۍ د کچې په لوړولو کې اغېزمنه ده، بلکې د سيمه‌ييز اتصال، ټرانزېټي همکاريو او د افغانستان د اقتصادي ځان‌بساينې د پياوړتيا لپاره هم مهم ګام بلل کېږي.

پنجشېر کې د لومړي ځل لپاره ...

او پټروليم رئيس مولوي محمد قاسم اميري وويل، چې دا داوطلبۍ د کانونو د ساتنې کمېټې د غړو په حضور کې ترسره شوه او د اسلامي امارت د نوي حکم له مخې د ۶۶ ډوله منرالونو، قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو د استخراج جوازونو د وېش لړۍ هم پيل شوې، چې د پانګونې، سوداګرۍ او کاري فرصتونو د پراختيا لپاره به زمينه برابره کړي.

د يادونې وړ ده، چې د مسئولينو په وينا، په تېرو درېيو کلونو کې د پنجشېر د زمردو، بېروج، سپينو زرو او ګرين ګارنېټ کانونو له لارې شاوخوا ۱۵ زره کسانو ته په مستقيم او غيرمستقيم ډول د کار زمينه برابره شوې او سلګونو ځوانانو د قيمتي ډبرو سوداګرۍ ته مخه کړې ده.

افغانستان د ټولو ګډ کور دی ...

او ځمکنۍ بشپړتيا لپاره بې شمېره قربانۍ ورکړې دي. د هر ډول بهرني بريد او تېري پر وړاندې د افغانانو دريځ تل روښانه او ثابت پاتې شوی دی. افغانستان د افغانانو ګډ کور دی، او د دې خاورې ساتنه د هر افغان ملي او وجداني وجيبه ګڼل کېږي.»

نوموړې وايي: «نړيوالو قوانينو له مخې، د يوه خپلواک هېواد پر خاوره بريد د هغه هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا ښکاره نقض بلل کېږي. دا اصل نه يوازې په نړيوالو حقوقي چوکاټونو کې منل شوی، بلکې د ملتونو ترمنځ د متقابل درناوي بنسټ هم جوړوي. هر کله چې پر افغانستان هر ډول پوځي يا سياسي تېری کېږي، دا يوازې يو امنيتي اقدام نه، بلکې د يوه ملت پر عزت، حاکميت او راتلونکي مستقيم بريد ګڼل کېږي. تاريخ دا ښودلې چې هر کله بهرنيو قدرتونو د افغانستان په چارو کې مداخله کړې، پايله يې د هغوی ماته او زوال دی.»

د ده په خبره: «پاکستان له لوري په افغانستان باندې وروستۍ پوځي حملې زموږ پر ځمکنۍ بشپړتيا ښکاره او بې‌شرمانه بريد دی. دا حملې نه يوازې د افغانانو لپاره د منلو وړ نه دي، بلکې ټول ولس که د هېواد دننه وي او که بهر دې بريدونو پر وړاندې د دفاع لپاره يو موټی درېږي. افغانان په ټوله نړۍ کې د پاکستان دغه ظالمانه کړنې په کلکو ټکو غندي او له نړيوالو غواړي چې د پاکستان پوځي رژيم وحشي کړنو مخه ونيسي.»

د فرانسې څخه مېشت افغان، مومن خان، وايي: «د نړيوالو قوانينو له مخې، په جګړه کې بايد د ملکي وګړو ژوند خوندي وساتل شي؛ خو له بده مرغه د پاکستان پوځ په کليو او ښارونو کې ملکي خلک په نښه کوي، چې دا کار د بشري حقونو ښکاره سرغړونه ده.

يو بل تن بهر مېشته هېوادوال، نايب الله، وايي: «موږ بهر مېشت افغانان، د دې ستر جنايت پر وړاندې غلي نه پاتې کېږو. د لاريون له لارې، د افغانانو د يووالي، غږ پورته کولو او د ظلم پر وړاندې د ودرېدو جوګه يو. دا د هر افغان ګډ مسئوليت دی چې د خپل هېواد د عزت او ځمکنۍ بشپړتيا دفاع وکړي، او د هر ډول تېري پر وړاندې په يووالي او ټينګ هوډ سره ودرېږي.» د نوموړي په وينا: «موږ ته د هر افغان وينه ارزښت لري، هېچا ته د دې اجازه نه ور کوو تر څو د خپلو شومو موخو قرباني يې کړي او په کې د افغانستان په پاکه خاوره د بې ګناه ملکي وګړو وينه توی کړي.»

زيارمل هوتک

د پوهنتونونو د علمي ...

روزنيزو پروګرامونو په جوړولو، د ظرفيت لوړونې فرصتونو په برابرولو او د اړتيا وړ کتابونو په ورکړه کې له پروان پوهنتون سره همکاري وکړي.

دغه راز د پروان پوهنتون رئيس هم يادې همکارۍ د لوړو زده کړو او فرهنګي بنسټونو ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا لپاره مهم ګام بللی او د متخصصو او ژمنو کادرونو د روزنې په موخه يې د علمي همکاريو پر دوام ټينګار کړی دی.

د فارياب ـ بادغيس حلقوي ...

نه يوازې د مسافرو او سوداګريزو توکو لېږد چټکوي، بلکې د ټرافيکي پېښو په کمېدو او د هېواد د ټرانزېټي ظرفيت په پياوړتيا کې مهم رول لري.

د دوی په خبره، د دې سړک بشپړېدل به د کورني او سيمه‌ييز ټرانزېټ ستونزې کمې او د هېواد اقتصادي ودې ته زمينه برابره کړي.

د معلوماتو پر بنسټ، له هرات څخه د فارياب تر قيصار ولسوالۍ پورې د افغانستان د حلقوي سړک اوږدوالی شاوخوا ۵۵۳ کيلومتره دی، چې د دې لارې وروستۍ نيمګړې ۱۵۱ کيلومتره برخه د بادغيس او فارياب ترمنځ پرته ده.

د غبرګولي په مياشت کې ...

پټلۍ له لارې ۱۰۵ زره ۸۶۳ ټنه چې ټولټال ۷۹۴ زره ۹۶۵ ټنه نفتي او نور توکي دي؛ هېواد ته وارد شوي او همدا رنګه، په دې موده کې ۲۵۱۷ ټنه تجارتي مالونه صادر شوي دي.

ياد وزارت وايي، چې هڅې کوي د لا زياتو انتقالاتو لپاره مناسب شرايط چمتو او سوداګرو ته اړينې اسانتياوې برابرې کړي. د يادونې وړ ده چې د ۱۴۰۵ لمريز کال د غويي په مياشت کې د افغانستان اوسپنې پټلۍ له لارې يو ميليونه ۳۸۲۱ متريک ټنه انتقالات شوي چې له دې جملې څخه ۴۲۴۶ متريک ټنه يې صادرات وو.

دايکندي کې راستنېدونکو ...

کلونو کې د ګاونډيو هېوادونو څخه د راستنېدونکو افغان کډوالو د منظم مديريت، ثبت او ملاتړ لپاره بېلابېل پروګرامونه عملي کړي او هڅه کوي چې د استوګنې، لومړنيو خدمتونو او د ژوند د مناسبو شرايطو د برابرولو له لارې د هغوی د باثباته ژوند زمينه برابره کړي.

له امريکا سره په دوحه کې ...

به د تاکل شويو ميکانيزمونو له لارې مخته يوړل شي.

دا څرګندونې داسې مهال کېږي، چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ادعا کړې وه، د دواړو هېوادونو ترمنځ د وروستيو متقابلو بريدونو او کړکېچونو له رامنځته کېدو وروسته ايراني چارواکو د خبرو غوښتنه کړې ده؛ خو تهران د ټرمپ دغه ادعا په کلکه رد کړې او ټينګار يې کړی، چې د امريکا له لوري مطرح شوي ادعاوې د ايران له رسمي دريځ سره سمون نه لري.

وينزويلا کې د وروستيو ...

چې ګڼې استوګنيزې سيمې، ښوونځي، روغتيايي مرکزونه او عامه تاسيسات له جدي زيانونو سره مخ شي. بلخوا، د وينزويلا د ملي شورا رئيس، ويلي، چې د زيانمنو شويو سيمو شاوخوا ۹۰ سلنه برېښنا بېرته فعاله شوې او د بې‌ځايه شويو کسانو د لنډمهالي استوګنځي لپاره ۱۵ موقتي کمپونه جوړ شوي دي. ده زياته کړې، چې حکومت او مرستندويه ادارې هڅه کوي د خوراکي توکو، پاکو اوبو، درملو او نورو لومړنيو اړتياوو رسولو بهير چټک کړي. نوموړي همداراز ويلي، چې د لټون او ژغورنې عمليات لا هم دوام لري او ژغورونکو ځواکونو په وروستيو ساعتونو کې يو شمېر کسان د نړېدلو ودانيو له کنډوالو ژوندي را ايستلي دي. د چارواکو په وينا، د مرګ‌ژوبلې شمېر ښايي لا هم لوړ شي، ځکه ځينې سيمې لا تر اوسه په بشپړه توګه نه دي ارزول شوې او د ژغورنې ډلې د اغېزمنو سيمو د پلټنې چارې پر مخ وړي.

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاین مسئول: یما عرب
ویبپاڼې مسئول: ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، اماراتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنایي بڼه
X تویټر
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	۶۵.۰۵ اف
یو یورو	۷۴.۱۰ اف
یو پونډ	۸۵.۲۰ اف
یو درهم	۱۷.۷۱ اف
زر ریال	۰۳۸ اف
زر کلداري	۲۲۵ اف
زر کلداري	۷۴۰ اف

Hewad Daily

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
۰۴:۴۰	۳۶°C	۳۴°C	۳۸°C	۴۴°C	۴۶°C	۴۳°C	۳۳°C	۰۷:۰۸

بهر مېشتي افغانان:

افغانستان د ټولو ګډ کور دی، د بهرني تېري پر وړاندې یو موټی یو

بهر مېشته افغانان په یوه خوله د پاکستان پوځي رژیم د وروستي پر بې ګناه ملکي وګړو بریدونو ته په غبرګون کې وايي، چې دوی هر ځل د افغانستان دننه بریدونه کوي چې قربانیان يې ملکي وګړي په ځانګړي ډول ماشومان او ښځې دي. دوی زیاتوي: افغانان د خپل هېواد د ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ لپاره بې شمېره قرباني ور کړي او هر ډول بهرني برید او تېري پر وړاندې دریځ تل روښانه او ثابت قدمه دی. افغانستان د ټولو ګډ کور دی او د دې خاورې ساتنه د هر افغان ملي او وجداني وجیبه ده.

پاکستان یو ځل بیا خپله بدنامه او وحشت څخه ډکه څېره په افغانستان کې د بې ګناه ملکي وګړو په شهیدانولو سره ښکاره کړه او د خپل بزدلانه بریدونو په کولو سره یې د هېواد په پکتیا، پکتیکا او کنړ ولایتونو کې نږدې دوه سوه کسانو ته مرګ ژوبله واړوله، چې په کور دننه او بهر د افغانانو د توندو نیوکو سره مخ شوه. بهر مېشته افغانان د پاکستان پوځي رژیم بریدونه د انسانیت څخه لرې بولي او زیاتوي چې دوی په ښکاره ډول د یو خپلواک هېواد حریم نقض کوي او د نړیوالو اصولو نه سرغړونه کوي.

له دې ډلې هالنډ مېشت افغان، لعلزاده نورزی، وايي: «افغانستان هغه هېواد دی چې د تاریخ په اوږدو کې يې د خپلواکۍ، ملي حاکمیت ...

۳مخ

د خپرونو چارو معین:

د پوهنتونونو د علمي سرچینو د پیاوړتیا برخه کې ملاتړ ته چمتو یو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معین مهاجر فراهي د پروان پوهنتون له رئیس مولوي محمد عزیز کاظم سره په لیدنه کې د دواړو بنسټونو ترمنځ د علمي، فرهنګي او رسنیزو همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار کړی دی.

ښاغلي مهاجر فراهي د پروان پوهنتون د علمي او اداري پرمختګونو ستاینه کړې او د ژورنالیزم پوهنځي اړوند د ابتکار راډیو سټوډیو او عمومي کتابتون څخه يې هم لیدنه کړې ده. ده ویلي: یاد وزارت چمتو دی، چې د تخصصي ...

۳مخ

د ښکلو هنرونو او صنایعو انسټیټیوټ نندارتون پرانیستل شو

د ښکلو هنرونو او صنایعو انسټیټیوټ نندارتون د سه شنبې په ورځ کابل کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د یو شمېر مسئولینو په حضور کې پرانیستل شو. دا نندارتون به درې ورځې دوام وکړي، چې پکې د ښکلو هنرونو او صنایعو انسټیټیوټ د استادانو او زده کوونکو هنري آثار نندارې ته وړاندې شوي دي. د نندارتون د پرانیستې په مراسمو کې ویناوالو د اسلامي هنرونو څخه د ملاتړ پر اهمیت ټینګار وکړ. په همدې لړ کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د تعلیمي نصاب رئیس، ډاکټر عارف عطايي، د قرآن کریم د آیتونو او نبوي احادیثو په رڼا کې وویل، چې اسلامي او د شریعت مطابق هنر د اسلامي نظام له ملاتړ څخه برخمن دی او مشران ورته ځانګړې پاملرنه لري. نوموړي همدارنګه څرګنده کړه، چې د نړۍ ستر تمدنونه د مسلمانانو د هڅو پایله ده او نن ورځ هم موږ باید د نړۍ د پرمختګ لپاره تر ټولو زیاتې هڅې وکړو.

همدارنګه د دې پروګرام په ترځ کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د ارشاد او دعوت رئیس، مفتي نجم‌الدین حقاني، او د متعلمینو او محصلینو چارو رئیس، استاد رفیع‌الله حبیبي، د اسلامي هنرونو د اهمیت او ترویج په اړه خبرې وکړې. دوی وویل، چې اسلامي نظام د اسلامي هنرونو د پیاوړتیا او ملاتړ لپاره ژمن دی.

د نندارتون د پرانیستې مراسم د ښکلو هنرونو انسټیټیوټ د ورزشي ځانګې د ورزشکارانو د نمایشي پروګرامونو په ترسره کېدو پای ته ورسېدل او ګډونوالو د انسټیټیوټ له هنري آثارو څخه لیدنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې دغه نندارتون به د راتلونکې اونۍ د چهارشنبې او پنجشنبې په ورځو هم دوام ولري.

د فاریاب ـ بادغیس حلقوي سړک د ۷۵ کیلومتره برخې جوړولو چارې رواني دي

د افغانستان حلقوي سړک د هېواد له مهمو اقتصادي او ټرانزیټي پروژو ګڼل کېږي، چې د بېلابېلو ولایتونو ترمنځ د نښلونې تر څنګ د کورني او نړیوال سوداګریز ټرانزیټ لپاره هم ځانګړې ارزښت لري.

د ټولګټو چارو وزارت چارواکي وايي، د فارياب - بادغیس ولایتونو په مربوطاتو کې د دغه سړک ۷۵ کیلومتره برخې د اساسي جوړېدو چارې په چټکۍ سره رواني دي.

د یاد وزارت ویاند، محمد اشرف حق شناس وايي، پر دغو دوو پروژو څه باندې ۷ میلیارده افغانۍ لګښت راځي، چې د ټولګټو چارو وزارت له بودجې ورکول کېږي. «د قیصار - لامان سړک چې د فاریاب او بادغیس مربوط کېږي. دامهال يې د ۷۵ کیلومتره سړک د اساسي رغونې چارې په چټکۍ رواني دي. د دې پروژې لومړۍ برخه چې ۲۵ کیلومتره اوږدوالی لري، له فاریاب څخه د بادغیس پر لور ده، د یو میلیارد او ۴۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت او دویمه برخه يې، چې د بادغیس له مُقر ولسوالۍ څخه تر بالامرغاب ولسوالۍ پورې د څه باندې ۴،۶ ملیارده افغانیو په ارزښت يې د قیراچونې چارې جریان لري.»

په همدې حال، د سیمې اوسېدونکي او یو شمېر موټرچلونکي د افغانستان حلقوي سړک د هېواد له مهمو زیربنایي پروژو بولي او وايي، د دې سړک په جوړولو به د ولایتونو ترمنځ تګ راتګ اسانه او سوداګریزې راکړې ورکړې لا چټکې شي. بلخوا، اقتصادي کارپوهان وايي معیاري سړکونه ...

۳مخ

د غبرګولي په میاشت کې د اوسپنې پټلۍ له لارې شاوخوا ۸۰۰ زره ټنه انتقالات شوي

د ټولګټو وزارت وايي، چې د روان ۱۴۰۵لمریز کال د غبرګولي میاشتې له پیل څخه تر پای پورې، د هېواد اوسپنې پټلۍ له لارې ۷۹۷ زره ۴۸۲ متریک ټنه انتقالات ترسره شوي دي.

د ټولګټو وزارت د رسنیز دفتر د معلوماتو له مخې؛ په یاده موده کې د حیرتان اوسپنې پټلۍ له لارې ۵۳۸ زره ۸۸۹ ټنه، د آقینې اوسپنې پټلۍ له لارې ۷۵ زره ۷۲۲ ټنه، د تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ له لارې ۷۷ زره ۸ ټنه، د خواف - هرات اوسپنې ...

۳مخ

دایکندي کې راستنېدونکو کډوالو ته د استوګنیزو نومرو د وېش لړۍ پیل شوې

د دایکندي په مرکز کې د ځايي مسئولینو په حضور کې بېرته راستنو شویو کډوالو ته د استوګنې د ځمکو (نمرو) د وېش لړۍ رسماً پیل شوه، چې په لومړي پړاو کې به ۶۹۲ کورنۍ ترې برخمنې شي.

د دایکندي د کور او ښار جوړولو رئیس عصمت‌الله صالحي وویل: د روڼتیا او عادلانه وېش د تأمین لپاره ټولې چارې د ټاکلو اصولو او کړنلارو له مخې ترسره کېږي. د نوموړي په وینا، د کور او ښار جوړولو وزارت له لوري دغه ریاست ته د ۱۱ زره او ۳۵۹ راستنو شویو کډوالو نوملړ سپارل شوی، چې له ډلې يې د څه باندې پنځو زرو کسانو اسناد بشپړ او ارزول شوي دي.

ده زیاته کړه، چې د وېش په دې لومړي پړاو کې ۶۹۲ د استوګنې نمرې، چې هره یوه يې پنځه بسوې مساحت لري، د مستحقو کورنیو لپاره ځانګړې شوې دي او پاتې مستحق کسان به هم د ټاکل شوي مهالوېش له مخې د استوګنې له ځمکو برخمن شي.

مسئولین وايي، د راستنېدونکو کډوالو لپاره د استوګنې مناسبې زمینې برابرول د هغوی د دوامدار مېشتېدو، ټولنیز ثبات او اقتصادي هوساینې په برخه کې مهم ګام بلل کېږي. د یادونې وړ ده، چې اسلامي امارت په وروستیو ...

۳مخ

هرات کې د شیدایي سړک د پاتې برخې د قیرکولو چارې پیل شوې

د هرات ښاروالۍ مسئولین وايي، چې د ښار د پنځلسمې ناحیې د امیر کروړ په ګذر کې د شیدایي سړک د پاتې برخې د قیرکولو چارې د ۸.۷ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې دي. د هرات ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي چارو

رئیس انجنیر محمد ایوب سیف الجهاد باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې یاده پروژه د ۵۰۰ مترو په اوږدوالي او ۱۲ مترو په سور د ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه تمویلېږي. د نوموړي په وینا، د دغې پروژې په بشپړېدو سره به د ښاریانو د تګ راتګ اسانتیاوې زیاتې، ترانسپورتي ستونزې کمې او د سیمې اوسېدونکو ته به د تګ را تګ په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي. ورته مهال د سیمې اوسېدونکو د یاد سړک د چارو په پیل خوښي ښودلې او له مسئولینو يې وغوښتل، چې د ښار په نورو سیمو کې هم ورته رغنیزې پروژې پلې کړي. ټاکل شوې د یاد سړک د قیرکولو چارې په څلورو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

بهرني لنډ خبرونه

اسرائیلي صیهونیسي پوځ تېرکال په لویدیځه غاړه کې ۵۴ فلسطیني ماشومان شهیدان کړي

د اسراییلي رژیم د بشري حقونو یوه سازمان ویلي، چې اسراییلي صهیونیستي پوځ د ۲۰۲۵ زېږدیز کال په ترځ کې په اشغال شوې لویدیځه غاړه کې ۵۴ فلسطیني ماشومان شهیدان کړي، چې د دغه سازمان په وینا، دا له ۱۹۶۷ کال راهیسې د لویدیځې غاړې د اشغال وروسته تر ټولو لوړه شمېره ده.

دغه سازمان، چې په لویدیځه غاړه کې د بشري حقونو د سرغړونو مستندول پر غاړه لري، ویلي چې د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له اوومې څخه د ۲۰۲۶ کال د جون تر ۲۸مې نېټې پورې د اسرائیلي رژیم په عملیاتو کې په لویدیځه غاړه کې ټولټال یو زر او ۸۶ فلسطینیان شهیدان شوي، چې له دې ډلې ۲۴۱ ماشومان دي.

ایران:

له امریکا سره په دوحه کې د خبرو ادعا ناسمه ده

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند، اسماعیل بقايي، په دوحه کې د ایران او امریکا ترمنځ د احتمالي خبرو په اړه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ وروستۍ څرګندونې رد کړې او ویلي یې دي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ په نږدې راتلونکو ورځو کې د کومې رسمي لیدنې یا خبرو لپاره هېڅ

ډول پلان نه شته.

بقايي ټینګار کړی، چې د ایران اسلامي جمهوریت په دې اړه روښانه دریځ لري او هغه راپورونه او ادعاوې، چې ګواکې تهران له واشنګټن سره د نوو خبرو غوښتنه کړې، له حقیقت څخه لرې دي. د نوموړي په وینا، ایران یوازې یو تخنیکي او متخصص پلاوی دوحې ته استولی، څو د ایران د کنګل شویو شتمنیو د ازادېدو او اړوندو تخنیکي موضوعاتو د تعقیب بهیر وڅاري.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند زیاته کړې، چې د دغه پلاوي سفر د سیاسي مذاکراتو په موخه نه، بلکې د مالي او حقوقي موضوعاتو د ارزونې او تعقیب لپاره ترسره کېږي. نوموړي همداراز ویلي، چې د ایران د شتمنیو د ازادېدو موضوع د هېواد لپاره مهمه ده او اړوندې چارې ...

۳مخ

وینزویلا کې د وروستیو زلزلو له امله د مړو شمېر ۱۷۰۰ تنو ته لوړ شو

نړیوالو رسنیو راپور ورکړی، چې د وینزویلا په وروستیو زورورو زلزلو کې د مړو شمېر یو زر او ۷۱۹ تنو ته رسېدلی، پنځه زره او ۳۴ نور کسان ټپیان شوي او ګڼ شمېر وګړي لا هم نادرکه بلل کېږي. د راپورونو له مخې، دغو زلزلو د هېواد په بېلابېلو سیمو کې پراخ مالي او بشري زیانونه اړولي، چې له امله يې زرګونه کورنۍ بې‌ځایه شوې او سلګونه استوګنیزې او عامه ودانۍ زیانمنې شوې دي. د ژغورنې او مرستې ډلې لا هم په اغېزمنو سیمو کې د نړېدلو ودانیو تر کنډوالو لاندې د احتمالي ژوندي پاتې شویو کسانو د موندلو هڅې روانې ساتلې دي. دې سره هممهاله، د امریکا د هوايي او فضايي څېړنو ادارې (ناسا) د خپلو ارزونو پر بنسټ ویلي، چې د دغو زلزلو له امله نږدې ۵۹ زره ودانۍ زیانمنې شوې یا په بشپړ ډول ویجاړې شوې دي. د ناسا د معلوماتو له مخې، د زلزلې شدت او پراخ جغرافیايي اغېز د دې لامل شوی ...

۳مخ